مخالفات فی الطهارة والصلاة

# داودس اومانځه

# خطا گانی

مترجم

حافظ نور احمد دین

حقوق الطبع والنشر والترجمة محفوظة
لدار القاسم للنشر
الطبعة الأولى ١٤٢٢هـ

العنوان:
المملكة العربية السعودية ـ الرياض
طريق الملك فهد ـ بين شارعي التلفزيون والخزان
الرمز البريدي ١١٤٤٢ ص. ب ٦٣٧٣
هاتف: ٤٠٩٢٠٠٠ فاكس ٤٠٣٣١٥٠

موقعنا على الانترنت: www.dar alqassem.com
البريد الإلكتروني: sales@dar-alqassem.com

بسم الله الرحمنالرحيم

## سریزه

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه

اما بعد --------- دا ښکاره خبره ده چه الله تعالی په مونږ ه باندی هره ورځ لمونځونه فرض کړي دي او په ادا کولو ددے لمونځونو کښی خلك مختلف دی هر یوئي په خپله خوښه کوي ځوك ئي ښه دي او ځوك بد ( یعنی ځنی ښه ادا کونکی دي او ځنی ناکاره بد ادا کونکی دي) پس ددغی وجی نه په هر یو مسلمان لازم دي چه دخپلی وسعی اوطاقت په اندازه کوشش وکړي په اداکولو دلمانځه خپل کښی ددے دپاره چه عمل پوره شي او ثواب تمام شي . او ددغه ټولو نه مخکی کوشش کول پکار دی چه خالص د الله تعالی درضا دپاره وي ددینه روسته ویلی شي چه یقینا ځنی داسبابو د کموالی دثواب دلمانځه نه هغه چه د ځنو لمونځ کونکو نه صادریږي هغه مخالفتونه دی دلمانځه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ځکه چه هغه فرمائی ( صلوا کما رایتمونی اصلی ) رواه البخاری ،لمونځ کوی په داسی طریقه لکه څنګه چه ما وینئ

چه زه ئی‌کوم . هم دغه شان دځنی اودس کونکو نه نقصان پـه اودس کـښنی صادریـږي ، او مضبـوط اودس نـه کـوي . نبـی علیه الصلاه والسلام فرمائي : من توضا کما امر وصلی کما امر غفر له ما قدم من عمل ) رواه احمد والنسائي ، چا چه اودس وکړه لکه څگه چه ورتـه حکم شـوے اومونځ ئي وکړه څنگه چه ورته حکم شوے مخکی چه ئي کـوم عمـل خطا کړی وي هغـه بـه ورتـه معـاف شـي .مسـلمانه وروره پـه اخـیر کـښنی درته پدی لړه او لنډه حصـه کـښنی ځنی خطا گانـی دخلکـو پـه اودس او لمانځه کښی پیش کوۍ ددے دپاره چه خلك تری ځان وساتی او نصیحت دهغـه چا دپاره چـه ثواب او اجـر حـاصل کړي چه ددے قول د رسول الله صلی الله علیـه وسـلم مصـداق دے (من دل علی خیر فله مثـل اجرفاعله )(چـاچـه پـه نیکـۍ او ښه کارِ خودنه وکړه دده دپـاره ثـواب دے پشـان دکونکـي ) الله تعالی دے مونږ ته دهر نیك کار توفیق راکړي او الله دے مونـږ هدایت او سمه لاره موندونکي جوړکړي یقینا دے اوریدونکے اوقبلونکے دے

زیا تی په اوبو داودس کښنی : نبی کریم صلی الله علیـه وسـلم به په یو مد اودس کولواوغسل به ئی په یو اوړی تر پنځه مـدو

پوری کولو (رواه البخاری).امام بخاری وائي چه علماؤ زياتے بد گنڼي پدی کښنی ( يعنی په اودس کښنی ) اودارنګه زياتےاوتجاوزدے دنبی عليه السلام دعمل نه .

[۱]اندامونه پوره نه وينځل : په اودس کښنی چه ځنی اندامونه ياځايونه پاتی شي او ونه وينځل شي داپه اودس کښنی کمے دی .نبی عليه السلام فرمائي : (ويل للاعقاب من النار ) هلاکت دے دپوندو والو دپاره داورنه ( چه پوندی وچی پاتی شي ) اونبی کريم صلی الله عليه وسلم يو سړي ته حکم وکړه چه اودس بيرته واپس وکړه ځکه دده په قدم بنپه کښنی يو ځا ئي پر يخودلی وُ چه نه وُ وينځلی .

[۲]دځنو خلقو دا عقيده ده چه دهر اودس نه مخکښی د ( فرج ) شرم ګاه وينځل ضروردي او دا عقيده خطا ده ځوك چه دخوب نه پاڅيده او يا تری باد هوا خارج شوه پده باندی دفرج وينځل نشته مګر که قصد اواراده د خپل قضاء حاجت وکړي (بيا دوينځي ).

[۳]التيمم ) تيمم وهل سره دوجود د اوبو نه او طاقت داستعمال هم وي. دا ښکاره خطائي ده ، الله تعالی فرمائي ( فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيبا ) چه نه موندلی تاسو

اوبه پس تیمم اووهی په ډاګه (میدان) پاك . دا ښکاره صریح آیت دے چه اوبه موجود وي تیمم نه دے جائز .

[۴]ځنی خلق خوب ونیسي دلمانځه په ځایٔ کښنی چه کله اقامت (تکبیر) وشي په خوا کښنی یو کس را پاڅه وي دارا بیدار شي او پاځي مونځ په غیر داودس کولو نه وکړي په شان ددا سی کس کښنی اودس دے ځکه دا ننوتے ؤ په خوب کښنی ډوب ؤ .که چرته هسی پریشاني وه (تمهید مقدمه دخوب) اوپوهیده په هغه چا چه په خوا کښنی ئی ؤ په دغه کس بیا اودس نشته .

[۵]ځنی خلق کله ده لره دمانځه وخت لاندی کړي او دا متیازو تینګ کړے ئي (یعنی وړی یا غټی متیازی ورغلیٔ) یاخو ئي سستی وی چه اودس نه کوی اویا تری اوبه لری وي ، دده دګمان دړجی چه پدغه حال داودس ماتی تینګولو کښنی لمونځ کول غوره دی دتیمم وهلونه چه مونځ وکړي په تیمم . داناپوهي ده او جهل دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : (لاصلاه بحضر ه طعام ولاو هو یدافعه الاخبثان) رواه مسلم ، چه نشته لمونځ (یعنی صحیح ندے) چه کله ډوډیٔ وغیره طعام حاضر شي اونه دا چه داکس دفعه کوي (

تېلوهي دوه خبيث شيان ) چه هغه وړی اوغتي متيـازی دی .
دشيخ الاسـلام ابـن تيميـه رحمـه الله تعـالی نـه تپـوس وشـو د(حاقن ) چه متيازو تېنګ کړے وي چه کوم يـو غـوره دے چه مونځ په هغـه اودس وکړي چـه متيـازو تېنـګ کړے وي او کـه اودس مات کړي بيا تيمم ووهي چه کله اوبه نه وي ؟ نـو هغـه جواب ورکړه چه لمونځ په تيمم غـوره دے چه کلـه اودس مـات کړي او متيازو نه وي تېنګ کړے، دلمانځه هغه نه چه اودس وي او متيـازو تېنـګ کړے وي . ځکـه دا مونـځ پدغـه حـال د متيـازو کـښې مکـروه دے منـع تـری راغلـی ده او پـه جـواز دضحت کښې دوه روايته دي. هرچه لمونځ په تيمم سره دے نوصحيح دے کراهت پکی په اتفاق سره نشته ( والله اعلم ) .

[دلمونځ کونکو ځنې خطاګانې ]

[ ١ ]قـران کريـم پـه اوچـت اواز سـره ويـل اواذکـار پـه مينـځ دلمانځه کښې چه په خواکښې خلق مشغو له کوي ( نبی کريـم صلی الله عليه وسلم فرمـايلي ( ان احدکـم اذاکـان فـی الصـلاه فانمـا ينـاجي ربـه فـلا ترفعـوا اصواتکـم بـالقران فتـوذوا المومنين ) يقينا چه کله يو کس ستاسو نـه پـه لمـانځه کـښې

وي نودا دخپل رب سره جرگه كوي نو دقران كريم په لوستلو سره اوازونه مه اوچته وی چه مسلمانانو ته تكليف رسوي .

[۲]ملانــه برابـرول پـه ركـوع او سـجده كـښې:اونبـې كريـم صلى الله عليه وسلم فرمائي ( لاتجزئ صلاه لمن لايقيم صلبه في الركوع والسجود ) اخرجه احمدوغيره ، څوك چه په ركـوع اوسجده كښې ملا (شاه) نه برابر ه وي (نه سمه وي )لمونځ ئـې نه كيږي .

[۳]اوه (۷) اندامونه په ځمكه نه برابره ول اوپه ځمكه نـه لږول په سجده كښې ، نبـې عليـه الـسلام فرمـايلي (امرنـاان نـسجد على سبعة اعظم ، رواه البخـاری . مونږ تـه حكـم شـوے چـه سجده په اوواندامونو وكړو.

[۱]ځنې مثالونـه پـه هغـه خطـاگانو بـاندی چـه خلـك ئـي پـه لمانځه كښې كوي اوددغه خطاو مرتكب كيږي په لاندی ډول دي ،

[۲]ځنې چه سجده كـوي يـوه ښپـه يـادواړه دځمكـې نـه اوچتـه وي،

[۳] اوځنې كله چه سجده كوي پوزه لږه دځمكې نه اوچتـه وي او داتهول ناروادي .

[۴]تېرونګی وهل په لمانځه کښې اوپه جلتۍ سره مونځ کول دانارواډي ، نبی علیه السلام فرمائي ( اسوا الناس سرقة الذي يسرق من صلاته . قالوا يارسول الله وكيف يسرق من صلاته ؟ قال لايتم ركوعها ولاسجودها ) رواه ابن ابی شیبة وغیره . نبی علیه السلام فرمایلی ناکاره او بد دخلقونه په غلاکښې هغه دے چه دمانځه نه غلاکوي صحابو وویل یا رسول الله دمانځه نه څنګه غلا کوي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه رکوع اوسجده دمانځه نه پوره کوي .

[۵]ځنی کسان چه څه حصه دلمانځه تینه فوت شوي ئي پاڅیږي چه هغه فوت شوی لمونځ پوره کړي، او امام لاسلام نه ئي ګرځولئے پوره دلمانځه نه اوداکار هم ناراوا دے . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی ( ما جعل الامام الا ليؤتم به فاذا كبر فكبروا واذا ركع فاركعوا ) رواه البخاری ، امام ندے مقررشوے مګر ددے دپاره چه په هغه پسی اقتدا او پوره والے وشي کله چه هغه الله اکبر ووائي تاسو هم اووائي او چه کله رکوع کوی تاسو هم رکوع وکړي .په مقتدي لازم دي چه انتظار به کوي تردیچه امام دسلام ګشرځولونه وزګارشي

[۶]دارنګه ددغه وجی نه مخکی کیدل دامام نه په مانځه

کښې یا یو شان کیدل یامخالفت کول دامام نه (مثال ) لکه رکوع یا سجده یا پاځیدل مخکې دامام نه یا دامام سره یوځائي یا ډیر روسته کیدل دامام نه : داټول کارونه ناروادي بلکې په مقتدی لازم دي چه دامام تابعداري وکړي چه امام کله رکوع کوي روسته ترینه رکوع وکړي او چه کله سجده کوي روسته ترینه سجده وکړي همداسې نور اعمال ( یعنی هر یو عمل پخپله اندازه کول پکاردی او تقدیم مخکې کیدل نارواد‌ی او ډیر زیات تاخیر هم نه وي لکه چه مخکې بیان شول .

[۷]ځنې خلق جه کله مونځ کونکي ویني په حالت درکوع کښې منډې وهی تر دی چه رکوع لاندی کړي او داکار ناروا دے منع تری شوی . نبی علیه تالسلام فرمائي ( اذااقیمت الصلاة فلا تا توها وانتم تسعون ، واُتوها وانتم تمشون وعلیکم بالسکینه فما اَدْرکتم فصلوا وما فاتکم فَاَتموا ) رواه البخاری ، کله چه مونځ ودریږي اواقامت وشي مه راځی په داسې حال کښې چه رامنډې وهی ، او راځی مانځه ته په قلاره او عادي مزل سره اوسکون اواطمینان په ځان لازم کړئ ،کوم چه دامام سره بیامومی، هغه ادا کړی او کوم جه درنه

فوت شي بيائى ځان له پوره کړي . کله چه ابوبکر جلتي وکړه او مونځ کونکو سره داخل شو په مينځ درکوع کښې نو نبې عليه السلام ورته وويل ( زادك الله حرصا ولاتعد ) الله تعالى دحرص زيات کړه خو بيا داسې مه کوه .

[٨]ځنې دخطاګانو نه دارنګه صف نه جوړه ول دي (چه صف نه برابره وي) يوکس دمونځ کونکو نه لرې مخکې شي او بل لرې روسته شي دريم دخپل ملګري نه لرې وځي او جدا شي ترې ، داټول ناروادي . بلکه په ټولو مونځ کونکو لازم دي چه يو شان شي او صفونو کښې برابر شي اود شيطان دپاره په صفونو کښې سوري چا ودونه پرې ندي .بنا په دې هر يو زمونږه نه دې حرص په دې وکړي چه خپل پړکي يعنې (ګټکې )د ښپې دې دبل ملګري دپړکي سره ولږئي اوخپله اوږه دملګرې داوږې سره ولږئ ليکن په غير دټيل او ګټې نه ، لکه ځنګه چه به صحابه کرامو کولو دغه شان .

[٩]کله چه اوږه ، او پياز اوخوری او بيا مسجد جماعت ته راځي په لمونځ ګزار دا لازم دي چه ځان ددې دخوړلونه و ساتي چه کله دلمانځه وخت نژدې وي مګر که بدبوی ختمه شوي وي دپښوالي په وجه .نبې کريم صلى الله عليه وسلم

فرمائي ( من اكل ثوما او بصلا فليعتزلنا ، او قال فليعتزل مسجدنا وليقعد فی بيته ) رواه البخاری .چا چه اوړه يا پياز اوخواږه نو زمونږ ه نه دجدا شي ، او يائي داسی وويل چه زمونږه دمسجد نه دجداشي او په كور كښی دكيني.

[دلته په يو دوؤ خبرو باندی خبردارے ورکؤ ]

اول: يقينا ځنی خلق دلمانځه نه لږ مخکی د اوړی او دپيازو خوړو اراده وکړي اوداحيله چل جوړ کړي پدی سر ه چه دلمانځه نهروسته شي يعنی دجماعت دلمانځه نه ،او دا گناه گار دے ځکه دا دالله تعالی سره ټگي کوي

دويم :داچه پکارده سگريټ څکونکی ته وويل شي چه دځان پحقله دالله تعالی نه وويريږه او دا دخبيث نجس شی څکل پريده په تحقيق الله تعالی فرمائي ( يحل لهم الطيبات ويحرم عليهم الخبائث ) الله تعالی ددوی دپاره پاك شيان جائز كوي او پدویباندی نجس خبيث حرام كوي ).بياد ورته ويلے شي دارنگه چه پوه شه الله تعالی ددرته هدايت وکړی چه ته مسلمانانو ته په جماعتونو کښی تکليف رسوی اوپه بازار ونو کښی او په هر ځائي کښی .نبی کريم صلیالله عليه وسلم فرمايلي (من اذى المسلين في طريقهم وجبت عليه لعنتهم)

چا چه په لاره کښې مسلمانانو ته تکلیف ورساؤ لازم دے پدی کس لعنت ددوی ،(یعنی خیری او بد دعائي ) دغه کس ته .پس کله چه داعذاب دهغه چا وي چه مسلمانانو ته په لاره کښې تکلیف رسوي نو څه حال به وي دهغه چاچه په جماعتونو کښې خلقوته تکلیف رسوي .الله تعالی ددرته هدایت وکړي قصدوکړه په پریښودلو دد ی خبیث څکلو پاندی کله چه الله تعالی په تا کښې رشتنی اراده معلومه کړه ستاسره به په دغه کښې امدادکوي ، (یعنی چه رشتنی قصد وکړي الله تعالی به تو فیق درکړی دپریښودلو.

[ ۱۰ ]ځنی خلق چه جماعت ته ننوځی اوامام رکوع کوي غاړه تازه کړی او یااووائي (ان الله مع الصابرین ) یقینا الله تعالی دصابرانو سره دے ، او یاځنی اوازونه وکړی لکه (لا اله الا الله او (سبحان الله ) وغیره داټول دد ے دپاره کوی چه امام ورته صبر وکړی او انتظار وکړی اوداپه دے خپل کار کښې خطا دے پدے لازم دی چه په قراره او اطمینان سره ننوځی اونور مونځ کونکي په خیلوخبرو مشغوله نکړي .

[ ۱۱ ]په جماعت مسجد کښې ځائ نیول : او داخاص په حرمینو کښې لیدلے شي ډیر خلق به وینی چه خپل څادر

رومال جائي نماز وغيره به ئی خواره کړي وی‌ددی دپاره چه ځائي ورباندے بند کړی اوپخپله ورته نه راځی مګر روسته ناوخته راځی اوچه کله راشي اوڅوك دده په ځائ ناست وي اوبيا مومي بيا ئي پاڅه وي بلکی رټی ئی چه کله هغه نه پاڅي او انکار وکړي .او دے داګمان کوي چه داځائ دده دپاره بند شوے دے دمخکی نه دا بند ونکړ ګناه ګار دے ځکه ده مسلمان دهغه ځائ نه پاڅووچه هغه ورته مخکی شوے وو (مخکی ورغلےو) شيخ الاسلام رحمه الله وائي ( هغه څه چه کوی ډير دخلکو‌نه چه مخکی جائي نماز يابل څه دجمعی په ورځ مسجد ته يوسی ياپه غير دجمعی نه مخکی دتللو نه مسجد ته دا په اتفاق دمسلمانانو منع دے ، بلکی داحرام کاردے،او ايا په دغه فرش جائي نماز وغيره لمونځ صحيح دے؟په دے کښی دعلماؤ دوه قوله دي : ځکه ده څه حصه دځمکی دجماعت نه غصب کړه په هواره ولو ددغه فرش جائي نماز وغيره په دغه مسجد کښی اونورمونځ کونکی‌ئی منع کړه . پس ويلے شي هغه کسانو ته چه په جماعتونوکښی ځايونه بنده وي اومنع کوي هغه څوك چه مخکی راغلی وی ددوی نه چه دالله تعالی نه وويريږی په خپلو ځانونو کښی او

خپـل ثـواب مـه کمـوی پـه ضـرر او تکلیـف رسـانی دنـورو مسلمانا نو کښې .

[۱۲]په ځنو مسلمانانو دا اعـتراض دے چه دوی په حـالت د ارګمي کښې اواز اوچتوي په ارګمـی ( اوهايي وکړی اوخولـه وازه کړی ) اوداکار بيا بيا کوي تکرار نو خوا کښې چه څوك وی هغـه تری کرکـه نفرت کوي ، او دهغـه عـاجزی پـه مـانځه کښی قطع کړی ، نو دغه کس ته ويلے شي چه څوك په ارګمـی مبتلی وي او ورزی ضرورده چه کوشش دبنده ولووکړی اووی زغمی . زغمل دا معنی چه واپس ئی کړی تر څو چه ئـي طـاقت وي او دا په لاس ايخودلو کيـږی پـه خولـه خپلـه . نبـی کريـم صلی الله عليـه وسلم فرمـائي ( اذا تثـاوب احدکـم فليمسـك بيده على فمه ) رواه مسلم .کله يو کس ستاسو نـه ارګمےکوي پس ودنيسـی پـه لاس خولـه خپلـه ( يعنـی لاس دوربـاندی کيـدي.[۱۳]پـه لمـانځه کـښی ډيـر خوزيـدل حرکـت کـول : دابنکـاره خبره ده اوليدلئے شي ځنی مونـځ کونکی چـه دوی ځان مشغوله وی په حرکت او خوزيدلو کله خو ډير ځله سرګره وی اوکله سينه اوکله پـه ګوتـو ټوقـی کـوی . او کلـه جـامی (کپړی لباس برابره وی) دهغوی همدغه شان وی تردچه خپـل

لمانځه ته متوجه نه شي په خپل زړه اوجسم سره. برابره خبره ده چه فرض لمونځ وی او كه نفل وی،ددې قول دالله تعالى نه (قدافلح المؤمنون * الذين هم فى صلا تهم خاشعون ) المؤمنون ١_٢)په تحقيق كامياب دى مؤمنان هغه كسان چه دوى په خپلو لمونځونو كښى عاجزى كونكى .[١۴]ځنى لمونځ كونكى په مينځ دلمانځه كښى ستركى يو طرف او بل طرف ته ګرځوى كله د خپو ځائي ته ګورى ، او كله مخى ته ګورى او كله يو طرف اړخ ته ګورى او كله سر او چتوى . او سنت دادى چه لمونځ كونكے ځائي دسجدى ته او ګورى درسول الله د ثبوت دوجى نه چه نبى عليه السلام به په لمانځه كښى ځائي دسجدى ته كتل اوكه په جلسه دتشهد كښى وى بيا دى لره پكار دي چه مسواكئ ګوتى ته او ګورى ( كومه چه دغتى ګوتى خواته وي ) كله ئىچه خوښه وى.دوجى دثبوت ددى نه ،اوكه خوښه ئى وى ځائي دسجدى ته دګورى.

وصلى الله علي نبينا محمدوعلىاله وصحبه وسلم .

مطابع الدار الهندسية/القاهرة
تليفون/فاكس : (٢٠٢) ٥٤٠٢٥٩٨